# پښتون

بنسټ ایښودونکی: باچا خان

گڼه (٦) کال ١٩٨٧ع میاشت نومبر د درې میاشتنۍ خپرونه


زه به لاړ د میړنو سره ځم
یمه پښتون د پښتنو سره ځم

خو چې راغونډ په یو مرکز ئې نکړم
هرې تپې ته د جرګو سره ځم

والی اغیار چې د دوزخ ته به ځه
زه به جنت ته د پښتنو سره ځم

حمزه "شنواری"

ثنائي

## غوره څنګې افغانستان

د لښي تاريخ چې د شمېر، لا بخو، کړکېچونو او جګړو نه ډک دی. یکښې انسان د انسان لخوا په ځنځیرونو تړل شوی. په توره د تیارو او قصبونو ځایونو کښې بندي شویدی، په سپېرو، لیوانو او د نمرود ځېړي او وژل شوی دی. د تیرو زمانو تیري، ناروا دی، بې بنیاده

او نه انې ولټوب خوله په انسان باندې لا ډېر تیري شوي. ښه به دا وي چې په انسان باندې د انسان پرونۍ، ننۍ، تیري، ناروا، بې بنیاده او نه انې ولټوب په ګوته کړو. ښه به دا وي چې تر هر څه د مخه د ځپل شوي هیواد افغانستان د برېښیدلي، ځوریدلي، او د توغندیو او بمونو لاندې وتړل شوي او کړېدلي اولس په هکله څه ووایو، دا خو ټولو ته والوته روښانه ده چې: افغان اولس

(پاتې د ریم مخ)

محمد شیرین "پرديال"

# پښتو او پښتونواله

پښتو د آریائي ژبو په ډله کې د ایراني او هندي څانګې ترمنځ یوه ځانګړې پخوانۍ ژبه ده چې د ډېرو تاریخي او لغوي دلایلو په ثبوت سره نه د ایرانیو او نه د هندیو ژبو څخه بولو. که څېړې موږ د باختري ژبو یوه څانګه د هندیو او ایرانیو ژبو او د پښتونو (لهجو) ترمنځ منځنۍ نو بیا پښتو د دغو ژبو په ډله کې د منځ کړۍ وګڼل شي. پښتون هغه خلکو ته ویل کېږي چې آریائي وګړي له افغانستانه د شرق او غرب خواته (۲۵۰۰) کاله د میلاد د مخه په لیږدونه بوخت وو، پدې سیمه کې پاتې ده او وروسته بیا دغه سیمه د هند د کوچنیو چې، ایران او ترکستان ترمنځ د تګ او راتګ او تجارت لاره وه. آریائي اقوام د امو له هغې خوا څخه دلته راغلي وو. دوی د کلتور او دین شروع هم دلته شوې ده د دوی پخوانۍ مینه آریانا ویجه بلله دا کلمه تر اوسه په پښتو کې ژوندۍ ده او د پښتو ژبې په پخوانیتوب او په آریائي ژوند او ژواک کې پوره اهمیت او ښکاره نښه ده. کله چې آریائي اقوام د هند او ایران په خاوره باندې خپاره شول او په تاریخي دوره کې یې ولیکل لوند ویدا او اوستا په کتابونو کې د دوی یادونې او د دوی پخوانی تمدن پکښې. او د دوی د کلتور او مشرانو نومونه د پخوانو ښکلو ادبیاتو د ودولو ارباب الانواعو نومونه او یادونې داسې ښودلې ده که د دوی چې د آریائي ژوند او مدنیت خاوندان وو. د دوی خپلې شرقي نیولې سیمې یعنې شمالي هند، آریا ورشه و باله، چې دغه د پښتو آریا ورشو ده، یعنې د آریائي خلکو د ځای ځای، په آریائي پخوانیو کتابو، وید، اوستا، مها بهارت او پهلوي کتابو کې داسې کلمات او اسناد پیدا کېږي چې د پښتو د ژوند ادب په څېر پخوانو زمانو کې رابنیي ترڅو حده چې د زړې پارسو (old Persian) په یو برلیکونو کې چې د ایران د هخامنشي پاچا داریوش - (۵۲۲ - ۴۸۶ ق م) څخه د بغستان (بیستون) پرغره کیندل شوي برلیکونه پاتې دي چې د دې لیکونو لېږه او وسنته کټ مټ پښتو ده.

که څه هم د افغان تاریخي یادونه څېړا زیاته او د ایران د ساساني کهول لمړني شاپور او د دې کورنۍ د دهم حکمران تر (۲۶۰ م) وروسته د کعبه زردشت په یو برلیکونو لیکلو په اشکاني پارتي او یوناني یو یو برلیک کې چې حتی تر ډیر ساساني

(پاتې پنځم مخ)

# غور ځنګې...

په مېړانه، سپېڅلتیا، وفا، رښتینولۍ او سپېڅلتونه
کښې نامتو ولس دی کوم چې د تاریخ په اوږدو کښې
چې یرغل په دې ولس باندې بهرنیو یرغلونو او ځواکونو
راغلی، خو د دې مېړني اولس لخوا په هر حال کښې هره ډله
باندنیو یرغلونو او ځواکونو ته ماتې ماتوونکي
ځوابونه ورکړل شوېدي. کله چې د انګلیسي استعماري
قدرت سره د افغانستان د اصلو بچیانو د جګړو
په اثر نه یوازې دا چې د افغانستان خپلواکي بیا
ترلاسه شوه، بلکه د دې جګړو اغېزه وه چې هندوستان
خپلواک شو او ورسره جوخت پاکستان هم د نړۍ
په مخ د ځېز یو. څه شی چې په دې نږدې کلونو کښې
د افغان اولس لا پښې سپېڅلتیا او رښتینولۍ کښېله
کېدای شي هغه په نړۍ والو سیاسي ژوندانه کښې
د افغانستان د ناپېلتوب عنعنوي سیاست وو.
خو هغه څه چې د ننه په افغانستان کښې د افغان
اولس ټینګښت تیا کېږه کېدله، هغه هم په ولس باندې
د نارواو واکدارانو واکمنېدل او د اولس په ټولنیزه
او سیاسي چارو کښې ناروا، غدې، بې نیاوې،
او نه انصاف لیتوب خپرېدل چې د اولس ترمنځ د زړه
ایکو نتیجه وه شمېرېدای شي. هر چا به داسې ویل:
هومره ناروا دی؟ څومره غدې؟ څومره بې نیاوې؟
او څومره کانه انصاف لیتوب؟ چې پرو د ورمنو انسانانو
د دغو ټینګښت تیا د و دلته کولو لپاره څه په ځانګړې
توګه او څه په پټه ایزه توګه هلې ځلې کولې. کوښونه
او هڅې ماتونه جوړېدل، خو په ټوله کښې په لښتیزه
توګه اصلاحي پروګرامونه پلي شي. پر دې لاره کښې پښتې
او سبکاره مبارزې روانې وې هڅونو او سازمان
په د اهڅه کوله چې د لښتیز بدلون لپاره سیاسي
واک ترلاسه کړي. چې ځینو هم ځېل سره نه لاسته
ورکړل، ځینې باندې بهرنیو ځواکونو ته ولېښتدل
او ځینې هم د ننه په هیواد کښې لاد سیاسي واک
د ترلاسه کولو لپاره هوار وو. مختلفو رنګ رنګ
سیاسي ګوندونه ژوندي شول او بلا اخره ځینو
په بوستر ځواکمن ګندار سره سیاسي واک ترلاسه
کړي، خو د ننه په افغانستان کښې د هیواد والو
ترمنځ د زړه اقتصادي او پلي پای ته ورسوي
او نوې اصلاحي پروګرامونه پلي کړي. خو څنګه چې
وائي: "ویناليونځه، کړنه بل څه": د دغو افغاني
سیاسي واکدارانو وینا او کړنو د افغانستان څخه
د دوه سترو قدرتونو د ورانه میلو توکي ولګوا وه
ترڅو چې اوه کاله مخکې شوروي اتحاد خپل د
سلو زره څخه زیات خپل پوځیان په افغانستان
کښې پلي کړل او په دې کار سره یې نه یوازې افغاني

(پاتې شپږم مخ)

خبرونه: د ملي عوامي ګوند پښتونخوا ټاکنه وشوه. د ۱۹۸۷ کال د سپتمبر په میاشت کښې د ملي عوامي ګوند پښتونخوا ټاکنه په لاهور د ول سي ته ورسېده. محمد افضل خان (خان لالا) د پښتونخوا مشر (صدر). ارباب همایون جمال سکرتر. فريد (طوفان) د خبرونو چارو سکرټر (پرېس) او همدارنګه د ګوند لوړې چارې ټاکلي کسانو ته وسپارل شوې.



افضل خان (خان لالا)

پېښور: د پښتنو مشر باچا خان ناروغتیا مخ په ښه کېدو ده. باچا خان چې د څو میاشتو راهیسې په بیرنیو ناروغ دی او اوس د پېښور په لیډي ریډنګ روغتون کښې پروت دی. د پښتونولسي ګوند خبریال د پېښور نه خبر راکوي چې د باچا خان ناروغي مخ په ښه کېدو ده. د لوی پښتونولسي ګوند باچا خان ته د هغه د اوږده ژوند او سالمې روغتیا ارزو لري.

کابل: د افغانستان د راډیو ټلویزیون برخې لیکټ په باره د PSDP او د اخ د ک (د افغانستان د خلک دیموکراتیک ګوند) ترمنځ د عوامي نېشنل پارټي د پښتونخوا د مشر افضل خان (خان لالا) په منځګړیتوب په کابل کښې خبرې اترې وشوې. د ۱۹۸۷ کال د اپریل په میاشت کښې د ډاکټر نجیب په بلنه په دغه خبرو اترو کښې د PSDP له خوا د ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوري د ګوند د چارو چلوونکي سکرټر هدایت نبلبنې د ډاکټر نجیب، نور محمد زیري، نوخي سره خبرې وشوې. سي برخه بره دي د سلیمان لایق،

که پوره ئې که شپوره وي په شریکه به وي

(باچاخان)

لعل محمد، نیاز محمد مومند، شهزاد مومند.
او د اخګر د لوړو زده کړو شخصیتونو سره
لیدل کتل وکړه او د خبرو د لاړې په ترڅ کې په هېواد
د دوامداره خواوله تیښتنار وشوه.

بلنه

ګولن :
د پښتنو سوشل ډیموکرټیک پارټي
«PSDP» د رهبر منشي اجمل خټک
لویدیځ جرمني ته میلمه کړی دی.

---

پښتو او...

شاپور د حکمرانۍ پوړی ( ۳۰۹ - ۳۷۹ م ) کاله
پوری ئی حکمراني کوله، چې ددغه د نامه سره یو
صفت او یا لقب اپګان لیدل کیږي چې دغه په
حقیقت کښې افغان دی او د فردوسي په
شاهنامه کښې هم دغه واړه راغلي دي
لون او ګمان، ابغان یا اوغان کلمې په پخوانیو
روایاتو کښې د هغه وخت د تمدن د پوهنې
پېړۍ د مسالانو او حکمرانانو په پېړه کښې یاد
شوي دي. د پښتو ژبې او افغان مدني او
فرهنګي ژوندانه ځینې کوڼ تر میلادي عصر وروسته
په یوه کې ملي لیکلي سند ونه شته چې د پښتو
ژبې برخه د اسکندر تر زمانې لږ را وروسته
هم ښیي. همدارنګه د پښتنو ځوانو په پخوانیو
او زړو مدني جرګو کښې یو د ښکلیت ګرامر وال
(پاڼي ني) چې د اباسین په غاړو کښې ژوند

کاوه او لوی شوی وه ( ۳۵۰ ) ق م هغه په
خپل کتاب کښې (امه ویناوی) د پښته او
باکبتیه ( بلخ ) تر منځ، د وهیتا ګړي (ایتي ګروګنی)
ځای ته ئې د وصیل لیږلي وائي او پخپله ره‌ده په
ذکر کړی او وړه په پخواني ادب کښې او تر اوسه
لا هم د دغه افغانستان او د پښتونخوا
ده چې په هند کښې پښتانه ورته د وهیلا او
پخواني ادب کښې د غزه حقي لري چه د غه لفظ
په مهابهارته حماسي هندي کتاب کښې هم راغلی دی.
همدارنګه د هند جغرافي تاریخ قاموس ۱۱۵ مخ
د ننند ولال تالیف په کلي ۱۹۷۱ او د محمد قاسم
فرشته وائي چې روه په اوږدوالي له سواته او
باجوړه تر سیوی او په تیرو تر سیو پوري پسېږي
او په پېښاوره له حسن ابدال تر قندهاره ده.
د پښتو د پېړو د مهمنې ادبي اثر چې اوس هم شته
د امیر کروړ پښتو ویاړنه (حماسه) ده چې
د (۱۴۰ ق) یعني د اتم میلادي پېړۍ د منځ
یوه ادبي حماسه او نښه ده چې د ادیاړنې د
پښتو ادب د لرغونو او هندي اریائي ادبیاتو او
منځنۍ اسیا د لویو پانګو ویاړنه سره تړلوي.
د اسلام تر فتوحاتو وروسته په د وهمه او
لسمه پېړۍ کښې عربي ژبه هم افغانستان
ته را ورسېده چې ددی ځای د خلکو د دیني او

( پاتې اووم ۶ )

## غورځنګ...

ملی غورځنګ نه یوازی پښتونستان بلکه عملاً ټول د افغانستان پوله خاوره د جګړې میدان ګرځوله. په دې کښې د هیواد همکوټ ویجاړ شوی، کورونه، کلی او بانډی ړنګی شوی، کروندی او باغونه شاړ شوه، ویالی او د ویالو بندونه ړنګ شول، کروندګرو خپلی کروندی پرېښودی او له خپلو کلو او بانډو نه په تېښته لوکښی د جګړی له لامله ځینی مړه، ځینی ژوبلی او ځینی ټوپندی لوړو کماوو پړ هیوادونو ته کډوال شوی دی.

څو کلونه ده چی د دی جګړی قربانیان په سلهاوو زره بی ګناه انسانان په شهادت او په میلیاردونو مالی نښتمنی خساره ده چی افغانستان ته رسېدلی. د لته د اسی پوښتنی منځ ته راځی چی له دغه جګړی څخه ګټه چا واخسته؟ کوم چی په ژ نیوکښی د افغانستان او پاکستان ترمنځه د سولی غیر مستقیمی خبری او تړونونه په شاسمه تولو د امریکی متحده ایالاتو او شوروی اتحاد ترمنځه په اروپاکښی د اتمی توغندیو د محدودولو د پرېکړو او تړونونو ترانیږی لاندی راغلی او د اشی ویل کیږی چی تر څو پوری دد غو دوه قدرتونو ترمنځ په اتمی توغندیو موافقه نوی شوی نو په افغانستان کښی به هم سوله منځته نه راځی. د او نړی په منځ

د غورځنګ افغانستان سیاسی دریځ. پرون د انګلیس استعماری قدرت سره د افغانستان د خپلواکی جګړی د نړی په منځ په پرستو سیاسی او جغرافیائی بدلونونه منځ ته راوستل او نن د افغانستان او د افغانستان د ولسپالونکو بچیانو د غورځنګونو اغیزه به سبا ته د نړی په منځ هم خورا پیریږ سیاسی، نظامی او جغرافیوی بدلونونه د ځانه سره ولری. اوس لوړ موږ هیله د هغو ولسپالونکو افغانانو څخه چی خپل هیواد او د خپلو ملی لویو سره د زړه له کومی مینه لری دا ده چی: په اوسنی جګړه کښی د خپل او د خپل لرانت هیواد سیاسی دریځ په لښتینه توګه روښانه کړی او په وخت سره ښه د خپلو ملی مشرانو د بلنی غبرګ وا دری او د اشیا- او خوا کاری په لاره کښی لایښی ملا تړلی او چمتو شی. ځو پوری توګه د کولای شو د استعماری قدرتونو هرډول پیچی او ښکاره د سیسی ښنډی کړو. د بری په هیله.

---

## د کاملی کرښی

که څوک سنه شی او که بد شی
د ځان د پاره دی «باچاخان»

د ښکلی فکر د کوډلی د قلم سره تړیر
لری

«فوږباخ»

## پښتو او ...

علمي ثابته شوه ، ډیر پوهان پیدا شوه چې د خپلو څېړنو د دغې ژبې او اسلامي پوهنو نه سترګې پټوي وګړي او همدا رنګه د پښتو ادب په عربي ژبه او ادب هم اثر وکړی او هم عربي ژبې مونږ پښتو ژبه په داسې پوره اغیزه منه کړه . د ټولو هغو پوهانو او - شرق شناسانو او مشرقو ملتو د لیکنو مشورو نه چې په افغانستان کښې شوې وه او تر اوسه پورې علمي څیړنې کړي دي دا ثابتوي چې د پښتو ژبې د پیدا ایښت ، وده او پښتانه تاریخي همدغه افغانستان دی او ددغه لرغوني حیوان په - کلتوري بدلونونو کښې ئې خپله پوره برخه اخستې ده ددې حیوان په سینه ډیر طوفانونه راغلي دي خو ددې طوفانونو د پښتو ژبې او کلتور ورک نه کړای شوه بلکه د پښتو د مقاومت قوه ئې لا پسې پیاوړې کړه . په هره ځای کښې لازم بولم چې د پښتو د لغت او خویونو په هکله لږ څه ووایم .

پښتو که د ژبې لغت دی نو بلې خوا د خویونو او دودونو چارچ لغت هم دی چې په دغه خویونو کښې پت ، عزت ، ښه ګینه ، نیکي ، توره ، میړانه ، وفا او داسې نور شاملیږي چې دا په اصل کښې د پښتو د کلمې بنیادي معنی ګڼل شوي دي که په ځای کښې د غه صفتونه نور هغه نه بې پښتو ویل کیږي ، پت پالل ، ښه ګینه او نیکي کول ، رښتیا ویل ، ژبه او وعده په ځای کول ، ننګ او غیرت لرل ، د وطن ناموس ساتل ، د مظلوم ادب ورته سره مرسته کول دا ټول د پښتو او پښتونولي مثبت صفتونه دي .

میا سید رسول رسا .. د خوشحال خان د دیوان په مقدمه کښې چې په پښتو کښې چاپ شویدي داسې لیکي : د پښتون کلمه د پښتون په حماسه کښې د وه معنی ګماني لري ، پښتو ، پښتانه خپلې ملي ژبې ته همداسې او پښتو ، پښتانه خپل ملي سیرت او خوی ته هم وائي . د دنیا په هیڅ قام کښې د ملي ژبې لفظ د ملي خوی په معنی کښې نه استعمالیږي دا امتیازي خصوصیت یوازې د پښتون په کلمه کښې دی او پښتو د پښتون قوم د ټولو ملي خصوصیاتو ساتونکې ده ، پښتو د پښتون د ملي ژوند ، عزت ، شرافت ، لوړوالي ، غیرت او همت یو داسې حد دی چې پښتون پرې تلل کیږي د پښتون په پښتو کښې ، ننګ ، میړانه ، زړورتیا ، میلمستیا ، بدل اخستل ، سخاوت ، بخښنه ، ازادي ، ارادې ، پت ، ملګرتیا ، دوستي ، سادګي ، صاف ویل ، بې پروائي ، قرباني ، ښه سیال او لوړ داسې صفات شته ، مونږ ممکنې وویل چې

( باقي اتم مخ )

# پښتو او ...

پښتون لپښتو ملي خوی لرونکی دی ، لوړ اخوی چی لپښتون په هر ځای کښی وویني که هغه پښتون وی او که نه وی ، مسلمان وی او که نه وی ، لو پښتانه والی ( د پیر لپښتون شری دی ) پښتانه په خپلو منځو کښی هم ځای ( د پلانی د پیر لپښتون سړی دی ) دا دی مراد دا نه وی چی سړی د پیر مسلمان دی بلکه مراد دا وی چی دا سړی لو لمونځ د پښتون وی

( پاتی په بله گڼه کی )

Sozialdemokratische Organisation
der Paschtunen e.V.
(Mitglied der Pashtoons Social Democratic Party)
Postfach 10 15 26
5000 Köln 1
West Germany

خپرونکی
او
زمه وار :

د خپرونی او کتنی د جرګی مشر :

M. Scherien
Breslauer str- 21
2160 STADE
W. Germany
Tel: 04141 - 46214

د پښتون د دری میاشتنی خپرونی لپاره خپل مضمونونه او کیلونه د خپرونی او کتنی د جرګی د مشر په پته را لیږئ .

## سپیڅلی خاوری

مبارز

د غیرت حیا نه یې کی ! ای زموږ سپیڅلی خاوری !
د پردو لاس ته ورنشی ! پرې نږدې په دې لارې !
پښتانه د لته او شیری ! ستا لمن کښی روزل شوی !
تابه ورنکړی دلاسه ! ځو دی نه یې وژل شوی !
هر پښتون جنګ ته روان دی ! ښه دی ږده په هر ځای چاری !
د غیرت حیا نه یې کی ! ای زموږ سپیڅلی خاوری !
د ښمنانو تری مخلعه ! ستا په لوړ بر ده کښته !
په لوړتیا ستا خبر نه وه ! چی ئی بیرته ده وتښته !
د جنګی په ډګر نه کوره ! د ښمنانو کړی بخاری !
د غیرت حیا نه یې کی ! ای زموږ سپیڅلی خاوری !
مو پالی زموږ اولسی کی ! اوس به هر ځای پښتونخوا شی !
د پښتون تیری شوی تیری ! بیا وصال به د لیلی شی !
خپلواکی به خپله اخلو ! هره خوا دی دغه ناری !
د غیرت حیا نه یې کی ! ای زموږ سپیڅلی خاوری !

**لا به یو کیږو و ګنی ورکیږو**

( ولی خان )

## په جرمني کښې " پښتون رسالې" د چاپ په هکله يادونه:

په کال 1928ع د مۍ په مياشت کې باچا خان بابا "پښتون رساله" جاری کړه، چې کله به اووه ورځنی، کله لس ورځنۍ، کله مياشتېنۍ او کله به دری مياشتنۍ خپريدله.

په 1930ع کې چې باچا خان بابا بندي شو، نو پښتون رساله هم بنده شوه، چې بيا د1931ع کال د مۍ په مياشت کې ښاغلي عبدالخالق خان خليق ته حواله شوه .

کله چې رساله په ډسمبر کې چاپ شوه، نو بيا بنده شوه ، په کال 1938 ع کې يو ځل بياجاری شوه او په1941ع کې بنده شوه، په 1945 کې بيا خپره شوه او د پاکستان دجوړيدو سره سم بيا بنده شوه، چې دا لړۍ (سلسله) همداسی وغزېده

پدی ترڅ کې د « پښتون رسالې» دبنسټ اېښودونکي (باني) فخرافغان باچا خان بابا په غوښتنه او دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند د مشر ډاکترکبير ستوري په لارښوونه د پښتون سوشل ديموکراټيک پارټۍPSDP په المان کې د پښتون رسالې خپرولو ته ملا وتړله اوپه 1981 ع کال کې ئې يوه ځانګړې ګڼه په الماني ژبه هم چاپ او خپره کړه.

په 1982 ع کال دمارچ په مياشت کې ئې لمړنۍ ګڼه ، چې اخباري بڼه ئې لرله چاپ اوتيته (خپره) شوه.

د 1995 ع کال تر جنورۍ ئې تر يولسمې ګڼې پورې چاپ او خپرې شوې

درنښت

نصير ستوری